# د شهید نقیب احمد خپلواک یاد

اهتمام: **شاه محمود میاخېل**

خپرونکی: **شاه محمود میاخېل فرهنگي او ټولنیز مرکز**

کمپوز: **لیکوال**

ډیزاین چارې: **رحمن الله بهیر**

چاپشمېر: ۲۰۰۰

چ[illegible]کال[illegible]۰٦.۱۲[illegible]ال ۱۷[illegible]

چا[illegible]ا[illegible]ړی



**د چاپ حقوق یې له لیکوال او خپرونکي مرکز سره خوندي دي**

Ketabton.com


# قیب احمد

# اک یاد

هتمام:

مود میاخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# ډالۍ

د استاد **شهيد خپلواک** او د افغانسـتان د ټولو هغو **شهيدانو** روح ته چې د علم پـه ګانه د وطن د بچيانو د پسوللو په لار کې يې سرونه قربان کړي دي.

مياخيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

د سرخو خبرې ........................................................ ۲
د خپلواک په یاد ............................................................ ۵
د شهید نقیب احمد خپلواک د شهادت په اړه د خواخوږو ...... ۱۰
د شهید خپلواک په اړه د ملي امنیت د سلاکار جلالتمآب ...... ۱۱
د خدای بښلي نقیب احمد خپلواک کورنۍ ته د خواشینۍ او ... ۱۳
د شهید نقیب احمد خپلواک په یاد .................................. ۱۵
د متحده ایالاتو د سولې انستیتیوټ له خوا ........................ ۲۹
د خپلواک د شهادت د غمجنې پېښې په اړه په ........................ ۳۳
د نقیب احمد خپلواک د شهادت په اړه د لغمان د والي ......... ۳۴
د ننگرهار پوهنتون د رئیس پوهندوی ببرک میاخېل پیغام ........ ۳۶



## د سرخو خبرې

د انسان ژوند د هغه کورنۍ، ولس او خلکو ته مهم دی او که څوک انساني حس ولري، نو؛ که له هر چا د ژوند حق اخیستل کېږي، دوی پرې دردېږي. انسان خو پرېږده چې اشرف المخلوقات دی، خو که یو حیوان او حتی یو گل، چې نبات دی، که هم په بېرحمانه توگه له منځه یوړل شي، د انسان زړه پرې خفه کېږي. د داسې کس په شهادت او بیرحمانه وژلو باندې چې د گل په څېر گلالی وي، تاند ځوان وي، پاک نفسه، خوش اخلاقه او د نورو لپاره د ښه او ښېرازه ژوند د برابرولو د فکر او ارمان ترځنگه د الله ج د ستر کتاب قران کریم حافظ وي، د هېواد په دننه او د بهرنیو هېوادونو په معتبرو پوهنتونو کې یې زده کړې کړې وي، په هېواد کې د یوه یاد پوهنتون استاد وي، نو دا طبیعي ده چې د داسې کس په له منځه تللو د هغه کورنۍ، دوستان، ملگري او هیوادوال خامخا دردېږي او زورېږي.

استاد شهید نقیب احمد خپلواک یو له هغه قربانیانو نه و چې د ۲۰۱۶م کال د اگست د میاشتې په ۲۴مه نېټه په کابل کې په امریکایي پوهنتون باندې د تروریستانو له خوا په حمله کې په داسې حال کې په بېرحمانه توگه شهید کړی شو ،چې په خپل صنف کې یې محصلینو ته د حقوقو د مضمون تدریس کاوه. شهید نقیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد خپلواک په افغان امریکایي پوهتنون کې د تدریس ترڅنګ له ما سره په کابل کې د متحده ایالاتو د سولې انستیټوټ په دفترکې د قانون د حاکمیت د پروګرام د منیجر په توګه کار کاوه. د شهید خپلواک شهادت زما په فکر او روان باندې هغه وخت یو خاص تاثیر وکړ کله چې ما د ده، او د دغې فاجعې د نورو قربانیانو مړي د کابل په سناتوریم کې ولیدل. دغه دومره دردونکې شېبه وه، چې ژوندی یم، هېره به نشي. د نوموړي شهادت ماته په هیڅ صورت د خپل ورور او اولاد له غمه کم نه و. په هماغو د درد او وېرنه ډکو شېبو کې ډېرو ګڼو دوستانو او ملګرو زما سره تماسونه ونیول او د ده د کورنۍ د غړو او محترم پلار بشیراحمد او وروڼو سره یې خپله همدردي او غمرازي وښودله، چې زه ددغو ټولو دوستانو د خواخوږۍ د احساس قدرداني او مننه کوم.

ما او زما د دفتر همکارانو دا اړینه وبلله چې مونږ د دې دوستانو که په هیواد کې وو او که له هېواده دباندې، خو چې پیغامونه یې رالېږلي یایې په ټولیزو او ټولنیزو رسنیو کې د ده د شهادت په اړه لیکنې او مقالې خپرې کړې دي او د خپلو زړونو او وجدانونو دردونه یې څرګند کړي دي، راټولې او چاپ کړو.

مونږ فکر کوو چې د دغه کار په کولو سره به له یوې خوا د شهید خپلواک هغه حق تر یوه بریده پوره کړو چې پر مونږ یې لري او له بل پلوه به د هېواد راتلونکو نسلونو ته زمونږ د سترګو پر وړاندې د



یو پېښ شوي ظلم او وحشت داستان په دې هیله پرېږدو چې هغوی ترې د عبرت درس واخلي او د نورو په لمسون خپل هېواد وران نه کړي او د خپل وطن بچي ونه وژني.

په دی لړ کې مونږ په پښتو، دري او انګلیسي ژبو پیغامونه او لیکنې سره راټولې او په دې کتاب کې مو رایوځای کړې. کیدی شي چې د ډېرو نورو دوستانو پیغامونونه او ویرنې مونږ نه وي لیدلې او یا مونږ ته نه وي رارسېدلې، که د چا پیغامونه پاتي شوي وي، زه ترې بښنه غواړم.

مونږ په دی لیکنو کې ډېره لاسوهنه نه ده کړې، اوکوشش مو کړی، چې څنګه دوی د خپلو دردونو اظهار کړی، په هماغې بڼه مو چاپ ته سپارلي دي او ډېر لږ ادیټوري اصلاحات مو د دوستانو په لیکنو کې کړیدي. زه د خپل دفتر ټولو همکارانو نه چې په دې لړ کې یې مرسته کړې ده مننه کوم او په خاصه توګه ښاغلي احمدالله ارچیوال او ښاغلي رحیم الله بشارت ته کور ودانی وایم، چې د دی لیکنو په راټولولو او ادیټ کې یې زیاته مرسته کړې ده.

او د لوی الله ج دربار ته د نقیب احمد خپلواک د شهادت د قبلېدو سوال کوم.

**روح دې ښاد وي**

**شاه محمود میاخېل**

**په افغانستان کې د متحده ایالاتو د سولې د انستیټوټ مشر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپلواک په یاد

**هجرت الله اختیار**

زه د واشنګتن پوهنتون د کتابتون د کونج په یوه خاموشه غورفه کې ناست یم او دا لیکل کوم. دا مهال زما سترګې له اوښکو ډکې دي، ځکه چې شهید استاد نقیب احمد خپلواک، شهید عمران عزیز، شهید ډاکتر عزت الله صدیقي او نور ډېر هغه ځوان کادرونه چې تورتم یې د ژوند ډېوې مړې کړې زما سترګو سترګو ته کېږي. شهید خپلواک هم د ننګرهار پوهنتون له حقوقو پوهنځي فارغ و او په امریکا کې یې ماسټري کړې وه، زه هم له یاد پوهنځي فارغ یم او دا دی دلته په نړیوالو حقوقو کې د خپلې ماسټرۍ پر تکمیل بوخت یم. موږ د ټول هېواد په ځانګړې توګه د مشرقي لپاره ګڼ خوبونه لیدلي دي، ډېرې خبرې مو کړې دي، پایله یې دا راوتله چې د مشرقي خلک خراب روان دي او د ښه کېدو لپاره یې یوازینۍ لار دا ده چې ځوانان په کور دننه او له هېواد بېرون لوړو زده کړو ته وهڅول شي. زموږ د بحثونو د نچوړ په توګه د مثبت بدلون ټولنې له خوا د بېوزله محصلینو د مالي ملاتړ پروګرام لا هم روان دی.

زه د ننګرهار پوهنتون د حقوقو په لومړي صنف کې وم او خپلواک نوی نوی دویم ته تللی و. زه د هغه له استعداد نه وم خبر، خو هغه



راته تر نورو متفاوت ځکه ښکارېده چې یوازینی کس و چې پوهنتون ته یې خپل کتابونه د غاړې په بکسه کې راوړل. موږ او نورو محصلینو به کتابچې او کتابونه په لاس کې صنف ته وړل (اوس هم ننګرهار پوهنتون کې محصلین بکسې نه کاروي). هغه مهال د نقیب د بکسې کمال دا و چې د کتابونو تر څنګ به یې د ده له کوره راوړې وچه ډوډۍ او د پیازو او رومیانو سلاته هم د ټولګیوالو له نظرونو پناه ساتله. نقیب به سهار وختي له کوره راوت، د پوهنتون له درس وروسته به یې په کومه ګوښه خپله غرمنۍ خوړله او بیا به تر ماښام ناوخته د جلال آباد ښار په (هېواد تعلیمي مرکز) کې د انګلیسي پر تدریس بوخت و. هغه په پوهنتون کې د خپل استعداد او جدیت له امله ځکه د ټولو په خولو کې نقیب نقیب و.

له فراغت وروسته خپلواک د (مهاجرینو لپاره د ناروې پلاوي یا NRC) د جلال اباد په دفتر کې د حقوقي څانګې مسوول و، ګڼو حقوقپوهانو یې تر لاس لاندې کار کاوه، خو کله یې چې د متحده ایالاتو د Fulbright سکالرشیپ تر لاسه کړ، نو وظیفه او معاش یې پرېښودل او په نورو زده کړو پسې له سمندرونو واوښت. ده په مقایسوي سیاست او امنیتي پالیسۍ کې د امریکا د Old Dominion University پوهنتون نه ماسټري واخستله او بېرته هېواد ته ستون شو. وروسته یې د امریکې په بل مشهور پوهنتون (Stanford University) کې د حقوقو او استادي د تحقیق په

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه کې فیلوشیب واخسته چې دا د ده لپاره ډېر مهم پروګرام و او کولی یې شول چې د دنیا په هر ګوټ کې تدریس ته دوام ورکړي. که څه هم د ننګرهار پوهنتون په حقوقو پوهنځي کې یې د استادۍ ارمان ونه رژېد، خو لکه څنګه چې فرصتونه په استعدادونو پسې ځي، په ده پسې هم د هېواد او سیمې په کچه لوړ موقفونه راورسېدل او د ښه معاش په مقابل کې یې په کابل کې بوخت وساته.

تل یې هڅولم چې لوړې زده کړې له هېواد بېرون وکړم، هغه به ویل: له افغانستان بېرون هر ملک د لوړو زده کړو لپاره ښه دی. خندل به یې چې د افغانستان محدودې منابع خو هسې هم ستا په مخ کې پرتې دي، هر وخت ترې ګټه اخیستی شي، بهر لاړ شه چې د علومو نوې دنیا وګورې. زه چې کله له هېواده راتلم، د خپلواک او نورو ملګرو لیدو لپاره وزیر اکبرخان کې دوی دفتر ته ورغلم، دی ناوخته راغی، د راوتو پر مهال مې د دفتر مخې ته په ولاړ ولید. زده کړو ته د تګ زېری مې پرې وکړ، وغوړېد، ویل یې زه هم د انګلستان مشهوره پوهنتون اکسفورډ ته د دویمې ماسترې او دوکتورا پسې ځم. په اوږه یې وټپولم، په خندا یې وویل: دغسې لږ د مینډو له لمنې راووځئ! بریا یې راته وغوښته. خپلواک له معاشونو او موقفونو پر زده کړو ډېر باور درلود او خپل ټول ملګري یې دې ته هڅول.



له خپلواک سره زما تماس د ټلیفون پر ځای انلاین ډېر و. موږ د فیسبوک له عامېدا پخوا په سکایپ چټ کاوه او بیا په فیسبوک. د ژوند په وروستیو میاشتو کې ورسره زما او د استاد سباوون ناستې هم زیاتې شوې وې. کله به د مثبت بدلون مرکز ته راته او کله یې موږ خپل کاله ته غوښتلو. همېشه به زموږ د بحث موضوع د مشرقي ځوانان و. هغه د مثبت بدلون ملګرو ته لکه ګل غوړېده او همېشه به یې خپل نظریات له موږ سره شریکول. هغه به ویل چې د قانون حاکمیت د مدني ټولنې له فعالیت څخه پراخېږي. د مدني ټولنې رضاکاره چارې د قانون له حاکمیت سره مرسته کوي. ویل به یې هر څومره چې زموږ خلک له بېسوادۍ ژر راووځي، هماغومره مو نېکمرغي ژر رارسېږي.

لږ مخکې مې فیسبوک کې یوه دردوونکې جمله ولوسته چې ((دلته د شل کالو زده کړو محصول د شلو روپو یوه مرمۍ ده چې درته رسېږي.)) رشتیا هم، موږ د داسې هېواد خلک یوو چې هره ورځ راکې د خپلواک په څېر لسګونه استعدادونه خاورو ته ځي. ماسترې او لوړې زده کړې دومره مهمې نه دي، ژوند مهم دی، یو ځوان که ژوندی پاتې شو، نو خپله کورنۍ له فقر او مجبوریت څخه ساتي. زموږ په هېواد کې د ځوانانو لو ګډ دی او بدمرغي مو دا ده چې لا هم ځینې تش په نوم پوهان روانې جګړې ته دیني رنګ ورکوي او د دین حکم یې ګڼي. ګڼ شمېر په دې اړه خاموشه دي. دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضعیت ته چې ګورم، نو فکر نه کوم چې مرګ لاس دې زموږ له سره پورته شي. ښايي د ډلو او ګروپونو نومونه بدل شي، خو د مرګ څپېره به همداسې زموږ په سرونو لګېږي.

ژوند ډېر لوی ارزښت دی، د خپلواک په څېر د ځوانو کادرونو وژل په ځوانانو کې هیلې وژني، دا مهال زه د خپلې ماسټرۍ د پایلیک (Final Paper) پر لیکلو بوخت یم، خو هره شېبه د یوې سترې نهیلۍ ښکار کېږم. ځکه هلته د هیچا ژوند خوندي نه دی او په ځانګړې توګه د هغوی چې لویدیځ کې یې زده کړې کړي دي او یا هم په ټولنه کې د نوم او مقام خاوند وي. تاریخ دا ټول څه لیکي، ښايي زموږ له تاریخ څخه نور ملتونه پند واخلي او د ژوندانه د خدمت لپاره خپلې هلې ځلې لا هم ګړندۍ کړي، خو موږ چې هېڅکله له تاریخ نه درس نه دی اخیستی، زه هیله نه شم کولای چې زموږ وضعیت به بدل شي. زموږ د بدمرغیو یوازې او یوازې بڼې بدلېږي، خو بدمرغي مو د نسل نسل له ژوند سره تړلې روانه ده.

زه له یو عالم نهیلیو سره سره دا لیکنه د یو داسې افغانستان په هیله پای ته رسوم چې په کې هېڅوک د هېچا د مرګ په اړه فکر او عمل ونه کړي، په هر چا ژوند ګران شي او هر څوک د زنده ګۍ فکر په سر کې ولري، هر څوک پر دې ایمان ولري چې: ژوند ښکلی دی!

# د شهید نقیب احمد خپلواک د شهادت په اړه د خواخوږو او دوستانو پیغامونه او لیکنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شهید خپلواک په اړه د ملي امنیت د سلاکار جلالتمآب محمد حنیف اتمر پیغام

**د جمهوري ریاست د ملي امنیت د شورا د فتر**

د کابل امریکایي پوهنتون تروریستي پېښې له امله د ملي امنیت سلاکار پیغام

د کابل امریکایی پوهنتون د هېواد او سیمې له سترو علمي بنسټونو څخه دی. د کابل امریکایي پوهنتون په تېرو لسو کلونو کې د افغانستان د پرمختګ لپاره مختلفو برخو ته په لوړو معیارونو روزل شوي کدرونه وړاندې کړي دي. په دې پوهنتون برید یو ځل بیا ثابتوي، چې تروریستان او د هغوی سیمه ییز ملاتړي، یوازې په افغانستان کې نظامي هدفونه نه تعقیبوي بلکې د یوه ولس د راتلونکې د تباهۍ پروګرام هم لري. تروریستانو د خپلو سیمه ییزو ملاتړو په همکارۍ تېره شپه د کابل پر امریکایي پوهنتون د برید پرمهال، د زده کوونکو ترڅنګ د پوهنتون ځوان او وتلی استاد نقیب احمد خپلواک او د پولیسو د ځانګړو قطعاتو یو قوماندان اکبر اندرابي هم شهیدان کړل.



نقیب خپلواک د ځوان نسل د روزنې لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کولې او اکبر اندرابي په لسګونو تروریستي پېښو کې د خپلو سلګونو هېوادوالو ژوند ژغورلی و. د ملي امنیت سلاکار محمد حنیف اتمر د کابل پر امریکایي پوهنتون د برید د غندنې ترڅنګ د شهید نقیب احمد خپلواک، اکبر اندرابي او د پېښې د نورو شهیدانو روح ته د فردوس جنت، زخمیانو ته د عاجلې شفا او د هغوی کورنیو او خواخوږو ته د جمیل صبر هیله لري.

د ملي امنیت سلاکار تروریستانو او د هغوی سیمه ییزو ملاتړو ته، چې تروریزم د خپلو دولتي هدفونو د وسیلې په توګه کاروي خبر داری ورکوي، چې افغان امنیتي او دفاعي ځواکونه به د کابل د امریکایي پوهنتون د پېښې غچ واخلي او تر ټولو خوندي پټنځایونه به یې له منځه یوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نقيب احمد خپلواک کورنۍ ته د متحده ايالاتو د سولې انستيټيوټ د مشرې نانسي ليندبرګ د خواشينۍ پيغام:

## د خدای بخښلي نقيب احمد خپلواک کورنۍ ته د خواشينۍ او تسليت په پار

ښاغلي بشير احمد، د هغه مېرمن او کورنۍ ته!

نقيب احمد خپلواک زمونږ يو ښه ملګری، د دفتر يوه لويه علمي پانګه او د افغانستان د روڼتيا او د پوهې د هر بحث او مبارزې هغه سرلاری و، چې په تللو يې مونږ ټول ستاسو په خبر دردېدلي او نهيلي شوي يو. مونږ تاسو ته خپل ژور خفګان او د زړه له تله همدردي وړاندې کوو. نقيب په افغانستان کې د سولې د راوستلو د لارې يو کلک ملاتړی وو. د هغه دا فکر او هڅه چې ښوونه او روزنه يې د خپل هېواد د بيارغونې په لاره کې د يوې وسيلې په توګه کاروله زمونږ ټولو له پاره يو الهام وو. نژدې يو کال مخکې، د متحده ايالاتو د سولې انستيټيوټ (USIP) ته د هغه له راتګ راهيسې، هغه زمونږ د پروګرام جوړونې برخې ته داسې يو بې جوړې بصيرت،



ريښتيني فکر او پنځوونکی خلقت له ځان سره راووړ، چې د سولې رامينځته کوونکو ته يې نوې لارې او لوري وښودل.

هغه د افغانستان د حقوقو په ټولنه کې يو لارښود او د افغانستان په امريکايي پوهنتون کې د خپلو شاګردانو په وړاندې يو ژمن او فداکار استاد و. نقيب چې له لوست او پوهې سره يې سخته مينه لرله، په دې تياريو بوخت و چې په اکسفورډ پوهنتون کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي، او په پام کې وه چې په نږدې راتلونکي کې هلته خپلې زده کړې پيل کړي.

نقيب په خپلو کارونو کې ستړيا نه پېژندله، او هغه هېڅکله هم په هغو ټپونو د مرهم لګولو په برخه کې خپلې هڅې ونه درولې چې د هغه هېوادوالو افغانانو ته د لسيزو جګړو په نتيجه کې ور رسېدلي دي. له بده مرغه هغې جګړې چې دی يې په درولو بوخت و، اوس پخپله د نقيب ژوند واخيست. مونږ د متحده ايالاتو د سولې انستيټيوټ (USIP) ملګري به نقيب هېر نه کړو او نه به هغه پراخه همدردي، پوهه او ابتکار هېر کړو چې د هغه ژوند او کار پرې پېژندل کېږي. مونږ د هغه سخت ارمان کوو، او تاسو او ستاسو کورنۍ ته تسليت وايو او دعاوې درته کوو.

**په خواشينۍ سره!**

**نانسي ليندبرګ**

**د متحده ايالاتو د سولې انستيټيوټ (USIP) رييسه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شهید نقیب احمد خپلواک په یاد

شاه محمود میاخېل
په افغانستان کې د متحده ایالاتو د سولې انستیتیوټ مشر
۶ سپتمبر ۲۰۱۶م، کابل



د ۲۰۱۴م کال د اکتوبر په شپاړسمه، په امریکا کې د متحده ایالاتو د سولې انستیتیوټ د ټکنالوژۍ د روان بهیر د رابرسېره کولو په موخه یو کنفرانس جوړ کړی و، په دې بحث کېده چې، د افغانستان په ولسواکۍ کې د ټولنیزو رسنیو او ټکنالوژۍ اغېزې او تاثیرات څه دي.
TECH RISING: THE INFLUENCE OF SOCIAL MEDIA AND NEW TECHNOLOGIES (IN AFGHANISTAN'S DEMOCRACY)



دغه کنفرانس ته له افغانستان څخه هم یو شمېر د سوشل میډیا فعالین، د سیاسي علومو استادان او د مدني ټولنو غړي دعوت شوي و. سهار چې کنفرانس ته لاړم، په دریغ راسره پنځه نور افغانان: ایمیل پسرلی، رحیم الله بشارت، مجید قرار، حبیب خان توتاخېل، ښایسته سعادت لامع او یو ښکلی ځوان نقیب احمد خپلواک ملګري شول. توتاخېل او خپلواک ما له دې د مخه نه پېژندل او په لومړي ځل ورسره دلته معرفي شوم. کنفرانس کې مونږ هر یو په خپل وار په افغانستان کې د سوشل میډیا د استعمال په پراخېدو، او د ځوانې ولسواکۍ په غوړېدا کې یې په اهمیت خبرې وکړې. د کنفرانس نه وروسته ما دې ځوانانو ته د افغانانو د دود او دستور سره سم ست سلا وکړه، چې ما سره د ماښام لپاره میلمانه شي. دوی زړه نا زړه و، خو زه خبر شوم چې دوی له هغه هوټل نه چې پکې اوسېږي، وځي او ځانته بل ځای لټوي، نو ما ورته وویل چې بل ځای دې نه نیسي، او ما ته څه ستونځه نشته، ځکه چې مونږ څو کوره نږدې سره اوسېږو او یو کور تاسې ته خالي کولی شو. د ډېر اصرار نه وروسته دوی ومنله، خو وې ویل، چې خپلواک سبا ته وختي پرواز لري، او دا بل ښه دلیل و، چې باید له ماسره میلمانه شوي وای ځکه چې زمونږ کور د واشنګټن ډالاس هوایي ډګر ته نږدې دی، او کولی مو شول چې سهار مهال خپلواک صیب په اسانۍ هوایي ډګر ته ورسوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باالاخره تصمیم په دی شو چې دوی زماسره لاړ شي، مونږ ورته زما د ځوی ضیا محمود میاخیل کور خالي کړ. زه د شپې تر یوه وخته له دوی سره پاتې شوم، بیا ترې کورته راغلم او ضیا ورسره هماغلته و. سهار چې ورغلم، وې ویل چې د خپلواک نه پرواز تللی و او بیا په ډیر تکلیف ورته دوی په بل پرواز کې ځای پیداکړ. د دې لنډې څو ساعته لیدنې وروسته، د خپلواک څېره او خبرې زما په فکر کې ډېرې پاتې نشوې، او بیا مو سره په لنډ وخت کې لیدل هم ونشول.

د ۲۰۱۵م کال د جون په میاشت کې مونږ د کابل په دفتر کې یو څه تغیرات راوستل او د قانون د حاکمیت د برخې لپاره مو یو پوست اعلان کړ. ددې پوسټ لپاره مو داسې کس پکار و، چې هم د حقوقو په رشته کې ښه تعلیم او تجربه او هم د ادارې او مدیریت په برخه کې پوهه او وړتیا ولري. دغه پوست ته د سلهاو کسانو په منځ کې یو هم خدای بښلی نقیب احمد خپلواک خپل اسناد راستولي وو، او لنډ لیسټ (شارټ لیسټ) ته یې هم نوم ختلی و. دا به مبالغه نه وي، او زما د دفتر د پروگرام ټول کار کوونکي راسره ښايي دا تصدیق کړي چې ما تل ټول کسان د یوې رښې پروسې په ترڅ کې نیولي دی او دا توپیر مې نه دی کړی چې څوک د کوم ځای دی او کوم قوم پورې تړاو لري. زه شخصا د قوم او سمت په بنیاد د کارکوونکو د گمارنې سخت مخالف یم. خدای دې وکړي چې په یوه دفتر کې ټول کارکوونکي یوازې د یوه قوم وي، خو باید د



ظوابطو او رښې پروسي په بنسټ راغلی وي، نه د روابطو او قانون ماتونې په صورت کې.

په اخره کې ما هم د نهایې نوماندانو سره د انترویو په پینل کې برخه واخیستله او د شهید نقیب احمد خپلواک سره مو انترویو وکړه. اوس هغه وخت تیر دی خو ده زمونږ د پینل ټول غړي په دې قانع کړل چې ولې ده دغه پوست ته اپلای کړې او د دې قابلیت لري چې د متحده ایالاتو د سولې د انستیتوت د پرواگرام منیجر په توگه کار وکړي. د پینل گډونوالو د رایو په اتفاق سره دی د دغه پوست لپاره وټاکه، او یو څه تخنیکي ستونزي وی چې څنگه خپل تدریس ته هم دوام ورکړي او هم زمونږ سره کار وکړي. خو هغه مو هم حل کړې او ده ته مو د دندې رسمي غوښتنه واستوله. خدای شاهد دی چې تر دی دمه دی زما له یاد وتلی و چې گوندې دی ما په واشنگتن کې لیدلې و او کیدای شي چې دا به زما بی توجهی او یا د ذهن زوړوالی وی خو ده راته وویل چې ما او تا خو واشنگټن کې سره لیدلي و. ده د ۲۰۱۵ م کال د جولای په ۲۴مه زمونږ سره کار پیل کړ، او د هماغو لومړیو ورځو نه یې په ډېر صداقت سره د دفتر د ټولو ملگرو سره ډیر ښه روابط جوړ کړل او دا یې وښودله چې د مدیریت او ادارې ښه استعداد لري او هم په حقوقي مسایلو ډیر وارد او پوه دی او د ټولو ملگرو او همکارانو په زړونو کې یې یو خاص ځای پیدا کړ. دی د متحده ایالاتو دسولې په انستیټوت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کار کولو نه سخت خوشاله و او همیشه به یې ماته ویل چې ده پـه امریکا کې د افغانستان په سفارت کې انټرن شپ کاوه نو دا یې ارزو وه چې باید په یو تحقیقاتي مرکز کې کار وکـړي ترڅـو د تحقیـق او پالیسي په ساحه کې تجربه حاصله کړي او دا بـه د ده پـه راتلـونکې ژوند کې مهم رول ولوبوي.

د ۲۰۱۶م کال د جنورې په میاشت کـې مـونږ بیـا د خپلـو دوه نـورو همکارانو، حمیدالله ناطق او پوپل حبیبـي سره واشـنګټن تـه د خپـل دفتر کلنۍ غونډې ته لاړو او ما دوی ته وویل چې که تاسي یو څـو ورځې هلته د کنفرانس نه د مخه او یا وروسـته پـاتي کیـږئ نـو ز مـا سره اوسېدلی شئ او څه سـتونځه نشـته دی. دوی هلتـه دوه شـپې د کنفرانس نه د مخه زمونږ په کور کې پـاتي شـول او زمـا د زامنـو سره یې خاص ملګرتوب پیدا شو او ټول د ده د پوهې، انسانیت، ادب او په پراخه ټنډه د خبرو او بحث نـه ډیـر متـاثره شـول. د کنفـرانس نـه وروسته دوی بیرته افغانستان ته راغلل. په تیر څه د پاسه یوه کال کې د شهید نقیب احمد خپلواک او زمونږ د دفتر د ملګـرو او همکـارانو ترمنځ صمیمیت د یوې ورځې نه تر بلې پورې زیاتیده او ده د ټولـو په زړونو کې خاص ځای پیداکړ.

څو میاشتې د مخه د ده نیا وفات شوې وه ا و زه د دوعا لپاره د دوی کـور تـه د لـومړي ځـل لاړم چـې دوی ختـم کـړی و او د ده پـلار ځارنوال صیب بشیر احمد مو د لومړي ځل لپـاره ولیـده. دا چـې ده



خپل پلار او کورنې ته زما په هکله ډیر توصیفونه کړي و نو د ډوډۍ خوړولو په وخت یې پلار راته د اخلاص په درلودلو سره وویل چـې زه د نقیب نه بل هیڅ څه طمعه نه لرم او ډیر زمونږ خیـال سـاتي خـو په یوه څیز تری خفه یم چې دی ولې واده نه کوي او تـه ورتـه بایـد ووایې چې خامخا باید چیرته چې د ده خوښه وي او هرڅـوک یـې چې خوښه وي، زه ورسره موافق یم خو دی باید خامخا واده وکړي. ما ورته وویل چې ځارنوال صیب دا ستا خبره سمه ده او مـونږ بـه دا تشویق کړوچې کوژده او واده وکړي. نقیب هم د تـل پـه څیـر ازاده مسکا وکړه او هیڅ یې ونه ویل.

د روژې نـه د مخـه پـه امریکـې کـې وم چـې خپلـواک راتـه ایمیـل راولیـږه، لـیکلي یـې وو چـې، دی غـواړي د بـین المـلي حقوقـو پـه څانګه کې اکسفورد پوهنتون کې د بلې ماسترۍ لپاره داخلـه وکـړي نـو زمـا څنګـه خوښـه ده؟ مـا ورتـه وویـل چـې زه همیشـه پـه دې خوشالیږم چې زما د د فـتر همکـارانو تـه د تعلـیم او تحصـیل زمینـه مساعده شي او زه موافق یم. په اکسفورد پوهنتون کـې داخلـه اسـانه کار نه دی او باالاخره ما هم ورته یو تصدیق ولیکه او په دغه رقـابتي پروګرام کې دی قبول شو او د سپتمبر پـه میاشـت کـې د ده سـبقونه پیل کیدل چې کال کې یوه میاشت یې باید هلته تیره کړې وای، خو ژوند ورسره یاری ونه کړه د ده دا ارمان نیمګړی پاتي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اگست په ۲۴مه نیټه چې د افغانستان په امریکایي پوهنتون باندې حمله کیږي، زمونږ غرمه سره شریکه وه او د غرمې ډوډۍ په وخت کې ما وویل چې په چین کې د یو داسي ډاینسور DINOSAUR اسکلیت کشف شوی دی، چې وایي وزرې یې درلودې او الوتل یې کولی شو. د همدې خبرې نه د خلقت یا CREATION THEORY په تیوری بحث پیل شو او هرچا په خپل اندازه نظر ورکاوه خو خدای بښلي خپلواک په دې هکله دومره ښه معلومات درلودل چې هم یې د دین له پلوه او هم یې د ساینسي علومو په رڼا کې ډیر ښه بحث وکړ. په همدې ورځ ماسپښین شهید خپلواک او عزت الله وقار زما دفتر ته دوه ځلې راغلل، او مشوره یې غوښتله چې غواړي د راتلونکې سه شنبې په ورځ د جلال اباد ښارپه سپین غر هوټل کې د قانون د حاکمیت د شبکې په هکله یوه غونډه جوړه کړي نو ما ورته وویل چې هلته یې مه جوړوئ او دامنیت له پلوه به دا ښه وي چې د ښاروالي میلمستون د کنفرانس په خونه کې دا غونډه جوړه کړئ. دی بیا راغی او راته یې وویل چې د ښاروالي میلمستون ۱۵۰۰ افغاني غواړي او یو شرط یې دا دی که په همدی ورځ د ولایت مقام دا خونه په کار وه نو بیا شاید مونږ ته د غونډې اجازه رانکړي. ما ورته وویل که پیسي د دولت حساب ته ځي نو ښه خبره ده او که د دولت حساب ته نه ځي نو مه یې ورکوه او زه به د



والي صیب او یا معاون د ولایت گردیوال صیب سره وغږیږم او څه ستونځه به نه وي. دا زما د ده سره اخري دیدن او خبري وي.

په همدې ورځ زه لږ مریض وم او د معمول په خلاف وختي تقریباً درې بجې کورته لاړوم چې استراحت وکړم. د ماښام د لمانځه نه وروسته د مزل لپاره له کوره ووتلم چې زما زوی، ضیا د امریکا نه راته تلیفون وکړ چې که زه د ډاکتر فرید ثمین سره تماس ونیسم او که څه مرسته وکړي شم نو ښه به وي، ځکه د هغه میرمن چې په امریکې کې ده سخته په تشویش کې ده. ما ورته وویل چې ولې په تشویش کې ده؟ ده راته وویل چې ته خبر نه یې چې د افغانستان په امریکایي پوهنتون باندې جگړه روانه ده. سمدستي مې مزل پریښوده، کور ته راغلم او دخپلو ملگرو او همگارانو او په امریکایي پوهنتون کې د نورو دوستانو او خپلوانو تلیفونوته مې د زنگونو وهل پیل کړل.

د ډاکتر ثمین، نقیب خپلواک او صدیق الله رښتیا چې درې واړو هلته درس ورکاوه، د دوی تلیفونو کار نه ورکاوه او بند و. زما د ترور زوی، هنر عمرزي چې هلته درس وایه باالاخره تلیفون اوچت کړ او ویې ویل چې دوی یو شمیر زیات استادان او محصلین په لومړی مرحله کې د شا د دروازې له لارې راووتل او جگړه روانه ده. د کابل د قوماندانۍ عملیاتي مرستیال، جنرال گل اغا روحاني ته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زنګ وواهه، ده راته وویل چې تروریستان داخل د پوهنتون محوطې ته ننوتلي دي او جګړه روانه ده او تلفات هم شته دی.

زما د دفتر همکارانو اطمینان راکړ چې صدیق الله رښتیا په پوهنتون کې نشته او هند ته په همدې ورځي د ویزه اخستلو په خاطر تللی دی، او د نقیب احمد خپلواک نه یې د تللو اجازه اخیستې ده. زما د زوی باجه حاجی افضل چې هم هلته درس وایې تلیفون یې کار نه کاوه خو باالاخره هغه هم پیدا شو چې د دیوال نه یې ځان اچولې و او ملا یې خوږه شوی وه او هم یې په اغزن مزي لاسونه زخمي شوي و او په روغتون کې و خو وضعیت یې ښه وه. همدا شان د خپل دفتر همکارانو ته مې وویل چې د نقیب د کورنۍ سره اړیکه ونیسي که هغوی سره یې تماس نیولی وي. د شپې په اتو بجو او اته ویشت دقیقو خپلواک ته مسیج ولیږه که هر وخت دی فرصت پیداکړ نو مونږ ته خپل احوال راولیږه خو دا فرصت په لاس رانغي. د نقیب ورور اسرار احمد په کابل کې و او هغه هم د نقیب د یو نږدي ملګري شکیب سره هلي ځلي کولې چې د نقیب په هکله څه معلومات ترلاسه کړي. دوی زما د همکارانو سره په مسلسله توګه ټوله شپه په اړیکه کې و ځکه د پوهنتون سره نږدي دعملیاتو ساحې ته نږدي د ورتګ اجازه نه وه.

جګړه چې څومره اوږدیدله هماغومره زمونږ تشویش اضافه کیده او رنګ په رنګ اوازي مو اوریدلي. تقریبا د شپې دوه بجې ډاکتر



ثمین وکړای شول چې د پوهنتون نه راووځي او په ټویټر کې یې د خپل صحت پیغام ولیکه نو ما ورنه د نقیب پوښتنه وکړه چې هغه دی لیدلې دی او که نه؟ ده راته وویل چې ماښام یې لیدلی و چې په خپل صنف کې یې محصلینو ته درس ورکاوه او دهغې نه وروسته یې نه دی لیدلي. زما تشویش دقیقه په دقیقه زیاتیده. زما د دفتر همکارانو یوسف کارګر، طارق احمد او یو شمیر ساتونکو او ما ټوله شپه په ویښه تیره کړه او ساعت په ساعت به مو د کابل قومندانۍ سره اړیکه نیوله او هم دوی اکثره روغتونونه لټول که چیري زخمي شوی وي، نو شاید یې په کوم روغتون کې پیداکړو. د شپې په نیمایي کې یو لست خپور شو چې اولس کسه زخمیان ایمرجنسي روغتون ته انتقال شوي او د یو کس نوم نقیب دی. که څه هم د دغه ټپي شوی کس د پلار نوم د نقیب د پلار د نوم سره توپیر درلوده خو ما بیا هم خپلو همکارانو ته وویل چې تاسي لاړ شي او پوره معلومات یې وکړئ. دغه ټپي شوی نقیب د لوګر اوسیدونکې و او زمونږ هیله بیا په ناهیلي بدله شوله. د استقلال، وزیر اکبر خان، ابن سینا، ایمرجنسي او د شهید داود خان څلور سوه بستریز روغتونونه ټول دوی ولیدل او نقیب د شهیدانو او ټپیانو په منځ کې پیدا نه کړ.

سهار شو او د لمانځه نه وروسته، پنځه بجي راته جنرال ګل اغا خان تلیفون وکړ چې جګړه ختمه شوله او هغه څوک چې دننه بند پاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، اوس راوځي نو تاسي هم هلته د پوهنتون په دروازه کې انتظار وکړئ چې ګونډې نقیب هم راووځي. اسرار احمد، کارګر او طارق هلته منتظر و خو تر پنځو بجو او پنځه څلویښت دقیقو پورې یو یو کس راوته خو نقیب د دوی په منځ کې نه و. هماغه و چې په شپږو بجو د سهار مې بیا د دوی سره اړیکه ونیوله او دوی راته وویل چې په تیرو پنځلسو دقیقو کې هیڅوک نه دی راوتلی او د نقیب څه پته نه لګېږي. ما بیا جنرال ګل اغا خان ته تلیفون وکړ چې د پوهنتون په داخل کې ایا مړي او ټپیان شته دی او که نه؟ هغه راته وویل چې نه ټول مړي او ټپیان روغتونو ته انتقال شوي دي او هیڅوک پاتي نه دي. ما ورته وویل چې نه په داخل کې څوک پاتي دي او نه دی په روغتونو کې شته دی نو د ده مړی او ژوندی څه شو؟ ده راته وویل چې یو څو دقیقي وخت باید ده ورکړم چې پوره معلومات حاصل کړي، بیا به ما ته احوال راکړي. تقریبا د لس دقیقو نه وروسته یې راته تلیفون وکړ چې دوی یو څه شهیدان د عدلي طب څانګي ته لیږلي دي او که هلته یې هم لټه وکړي نو ښه به وي. هماغه و چې کارګر او طارق ته مې وویل چې تاسي د کابل عدلي طب څانګي ته لاړ شئ او هلته یې معلومات وکړئ. دوی د د اسرار سره هلته لاړل او د لږ ځنډ نه وروسته یې راته وویل چې نقیب شیهد شوي او جسد یې په عدلي طب کې پروت دی.



د نقیب احمد خپلواک د شهادت غږ زما په سینه د خنجر ګذار و او بیدریغه مې کړیکې کړې او سمدستي مې د عدلي طب په لوري حرکت وکړ. د امنیتي ستونځو په خاطر د عدلي طب په لوري د موټرو تګ او راتګ او هم عدلي طب ته د ننوتو اجازه نه وه خو دا چې جنرال ګل اغا زما د ورتګ خبر دوی ته ورکړی وه، او د کورنیو چارو وزارت کې د پخواني معینیت په خاطر زما موټرو ته یې اجازه ورکړه او عدلي طب ته داخل شوم. اسرار او زما د فتر همکارانو په غیږ کې کلک ونیولم او خپل زړه مو په ژړا ښه سترې کړ. د عدلي طب زیر زمیني ته داخل شوم چې د د دوه تروریستانو جسدونه په لاره کې پراته و او دخداې بښلي شهید نقیب احمد خپلواک جسد په تذکره پروت و چې ټول وجود یې په وینو ککړ و او نور جسدونه هم هلته و. ما خپلو همکارانو او د عدلي طب مسوولینو ته وویل چې نور څوک دننه مه پریږدئ چې د نقیب په وینو کې ککړ جسد په دی شکل وګوري او د عدلي طب مسوولینو ته مې وویل که همدلته ده ته غسل او کفن ورکړل شي او په تابوت کې کیښودل شي نو ښه به وی. د هغوی دې هم کور ودان وي، همداسې یې وکړل. او د نقیب جنازه مو سهار په لس نیمو بجو د دوستانو، خپلوانو او زما د دفتر د همکارانو په مرسته د عدلي طب نه واخیستله او د جلال اباد په لور مو حرکت وکړ. جنازه مو جلال اباد ښار سره نږدې د شهید نقیب کلي قاسم اباد سیمي د بهراباد کلي ته یوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیرته چې په سلهاو کسانو د جنازې د رسیدو انتظار کاوه او د جنازي په لیدو، په سلهاو د نقیب خپلوانو، ملګرو او دوستانو د زړه او د سترګو نه د وینو اوښکي رواني وي او د ټولو زړونه یې د تل لپاره زخمي کړل. جنازه په څلور بجو د دوی په پلرنۍ هدیره کې خاورته وسپارل شوه. او ټولو د ده په حمیده اخلاقو، تواضع او علمیت شاهدې ورکوله.

د دی صحني یادول اسانه کار دی خو د دغه لوی غم لیدل او د هغه د قلم په ژبه لیکل اسانه کار نه دی. په تیرو څو لسیزو کې زما ورونه شهیدان شوي او مړه شوي دي خو د نقیب شهادت زه د هغوي د مرګ نه هم زیات وزورولم دا ځکه چې دی ځوان و، قاري د قران او دیني عالم و، په سیاسي او حقوقي علومو کې یې د ماسترۍ ترکچې زده کړې کړې وې، د پوهنتون استاد و، سولې او د قانون د حاکمیت په ساحه کې یې کار کاوه او د افغانستان راتلونکی و. د خپل ژوند د ۳۱ کلونو نه یې ۲۶کاله، ده په تعلیم او تدریس تېر کړل او ډېر ډېر ارمانونه او پلانونه یې درلودل. خو د ده او همداشان د نورو هغه کسانو ارمانونه په همدی شپه د وحشي تروریستانو له لاسه د خاورو سره خاوری شول. دی واقعا شهید دی، د خپل او نورو د ژوند د بهترۍ له ډېرو ارمانونو سره له دې دنیا لاړ، خو د شهادت دغه له درده ډکې خاطرې او د ده مسکا لکه چې په دی عکس کې ګوري، د تل لپاره به زما په زړه کې پاتې وي. الله تعالي دې هغه



وبښي او د هغه کورنۍ او دوستانو ته دې الله تعالی جمیل صبر ورکړي.

**انا لله و انا الله راجعون.**

(c) ketabton.com: The Digital Library






## د متحده ایالاتو د سولې انسټیټوټ له خوا د نقیب احمد خپلواک په نوم د نښان رسامي وښودل شوه

لیکنه: د شاه محمود میاخېل
۳۱اکتوبر ۲۰۱۶م کال

ډیر دوستان وایي چې ولي مونږ خپل ژوندي نه لمانځو او همیشه خپل مړي لمانځو دا ځکه چې د افغانانو ژوند، همیشه مبارزه او پهلواني ده او هغه ولس چې دلوبي په ډګر کې په پهلواني اخته وي نو دوی ته د دی فرصت په لاس نه ورځي چې د پهلواني د مبارزي د حلقې نه بهر فکر وکړي او همیشه دوی په دی فکر کې وي،چې



دا مبارزه څنګه وګټي ترڅو هم ځانته او هم خپل وطن او خلکو ته نیک نوم پریږدي. په دی خاطر مونږ د خپلو ژوندیو د لمانځلو فرصت نه لرو.



شهید نقیب احمد خپلواک هم د خپل ژوند په مبارزه کې اخته و، که څه هم ده په هیواد کې دننه لیسانس او ورسره دینې زده کړې کړې وې، د قرآن حافظ و، په امریکا کې ماسټري کړې وه، خوبیاهم په دې قانع نه و او کوشش يې کاوه چې د دوکتورا ترکچې خپلې زده کړې بشپړې کړي او په دې موخه يې د انګلستان په اکسفورډ پوهنتون کې د دویمي ماسټرۍ لپاره داخله کړې وه. د تعلیم او تدریس په څنګ کې يې په افغانستان کې د دایمي سولي راوستلو لپاره د متحده ایالاتو د سولې انسټیټوټ په دفتر کې د قانون د حاکمیت په برخه کې د پروګرام منیجر په توګه کار کاوه. ده هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کړه کوله هم یې کار کاوه، چې دخپلې کورنۍ، وروڼو او خویندو لپاره د تعلیم زمنیه برابره کړي. خپلواک خپل ژوند ټول په زده کړه او نورو ته د تعلیم د زده کولو په لار کې تېر کړ او باالاخره په دې لار کې د ۳۲ کلونو په عمر د ۲۰۱۶م کال د اګست په ۲۴مه نیټه د افغانستان او بشریت د دښمنانو له خوا په داسې حال کې شهید کړی شو چې د افغانستان بچیانو ته یې د کابل په امریکایي پوهنتون کې د حقوقو په څانګه کې تدریس کاوه. په دې توګه د پورته حالاتو په رڼاکې افغانانو ته همیشه دا ستونځمنه وي چې د داسې ډول مبارزي او پهلواني په میدان کې خپل ژوندي سم



Asia Center Staff Retreat
The United States Institute of Peace
Washington, D.C. • January 4, 2016

ولمانځلی شي څکه افغانان په نورمال حالت کې ژوند نه کوي، خو بیا هم شهید نقیب احمد خپلواک د خپلو دوستانو، خپلوانو،



همکارانو او هغه ادارو له خوا چې ده هلته زده کړې او یا یې کارکړی و، په ډیر ښه شان سره ولمانځل شو او د ده حق یې تر یوه حده پوري ادا کړ.

د شهید خپلواک د لمانځلو په دې لړ کې د متحده ایالاتو دسولې انستیټوټ هم په ځانګړو مراسمو، چې د دغه انستیټوټ په سل ګونو کار کوونکو پکې برخه درلوده، د نقیب احمد خپلواک په نوم د دغه رسم شوي نښان نمونه د دغه انستیوت د مشرې او معاونینو له خوا نن وښودل شوه، او دا پرېکړه وشوه چې دا نښان به ددغه انستیټوټ په دفتر کې وروسته په دایمي توګه وځړول شي. د دې خبرې یادونه اړینه بولم چې هر کال تقریبا نیم میلیون کسان د متحده ایالاتو د سولې انستیټوټ نه کتنه کوي او دا ټول کسان به د نقیب احمد خپلواک نوم د سولې د قربانیانو په لړ کې ګوري او د ده په ژوند او خدمت به فکر کوي.

**روح دی ښاد وي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نقیب احمد خپلواک د شهادت په اړه د لغمان د والي ښاغلي عبدالجبار نعیمي پیغام

***Laghman Governor Office Media Center***

لغمان والي دځوان شهید نقیب احمد خپلواک په فاتحه کې ګډون وکړ.

نن دجمعې په مبارک لغمان والي عبدالجبار نعیمي چې یو شمېر اداري رئیسانو او مشرانو یې ملتیا کوله ننګرهار ته په خپل سفر کې دشهید استاد نقیب احمد خپلواک کلي ته ورغی او د شهید دفاتحې په مراسمو کې یې ګډون وکړ.

ښاغلي نعیمي د ارواښاد د کورنۍ سره په خبرو کې شهید استاد نقیب احمد خپلواک د هېواد یوه ستره علمي هستي یاده کړه او مړینه یې دټولو لپاره نه جبرانیدونکي ضایع وبلله، د مرحوم کورنۍ،دوستانو ،په علم او پوهې مینو هېواد والو سره یې دلغمان اداره او ولسونه په دغه درونډ غم شریک وبلل او ټولو ته یې د تسلیت مراتب وړاندې کړل او شهید نقیب احمد خپلواک ته یې د لوی څښتن تعالی له سپېڅلې دربار ه دجنت الفردوس او د پېښې ټولو ټپیانو ته دعاجلې روغتیا هیله وکړه.

## د خپلواک د شهادت د غمجنې پېښې په اړه په ټولنیزو رسنیو کې د دوستانو پیغامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياده دې وي چې د تېرې پنجشنبې په ماښام استاد نقيب احمد خپلواک د تروريستانو له لوري په کابل کې دامريکايي پوهنتون په بريد کې په شهادت ورسيد په دغه بريد کې ۱۳ تنه نور محصلين هم شهيدان او تر ۳۰ زيات ټپيان شول.

د شهيدانو روح دې ښاد او ټپيانو ته دې خداى ج عاجله شفا ورکړي.

***



## د ننگرهار پوهنتون د رئيس پوهندوى ببرک مياخېل پيغام

که زه خبرواى چې بيلتون دى! نن د گل په شان يوه ښايسته انسان د ژونديو له کتاره لار بېله کړې او د بقا لـه کـاروان سره يوځـاى شـوى دى، پر گور يې نور شه. اروابناد نقيب احمد خپلواک د هېواد ځوان علمي کادر او د پياوړي احساس خاوند له خپل هېواد او ټـولنې سره بې کچه مينه درلوده. خو د يو بدبخته قوم په توگه پر مـوږ الله تعـالى لويې هستۍ نه دي لورولي. (خدايه ځنگه ژر دې واخيست).

خپلواک که په عمر کم و خو ټولنيز شعور او د فکر کچه يـې دومـره وه چې د يـو لوسـتي او بـا احساسـه ځوانـه پـه توگـه تـل د خپلـې دردېـدلې ټـولنې نـاخوالو دردولـو، ربښتياهم چې لـوړ خلـک لـوړ فکرونه لري. څو ورځې وړاندې يې راته وويل:

استاذه! هڅه به وکـړم چې پـه کابـل کـې د ننگرهـار پوهنتـون، هغـه فارغان چې په بېلابېلو ادارو کې کار کوي راټول کړم او ويې هڅـوم چې پـه پوهنتـون کـې يـوه چـاره تـرسره کـړي او بيـا د فارغـانو نـوم ورکړي، زه دې خبرې ډېر وهڅولم او احساس يـې راتـه ډېـر د قـدر وړښکاره شو، لامل يې ښايي دا وي چې يوڅـوک پـه يـوه علمـي او فرهنگي کورنۍ کې لوى شوى وي، لـه يـوه فکـري ښـوونځي فـارغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، په چاپیریال کې یې د اروا‌ښاد ملنګ جان د شعري احساس نغمې غزونې کوي، د محمدي صاحبزاده مذهبي او د اروا‌ښاد ریښتین ادبي ازانګو یې د ذهن پرده روښانه کړې وي، نو څنګه به یې د احساس درد شریکې نه کوي. زه په داسې حال کې چې خپل احساس ډېر په الفاظو کې نه شم څرګندولی، جلا والي یې ډېر وکړولم، د یوه ځوان په توګه به هغه څومره ارمانونه لرل، چې نن ډک زړه تورو خاورو ته لاړ. زه هغه چاته حیران یم چې پر ده به یې څنګه مرګوني برید کاوه، خو پردې باید هم پ،ه شو چې (دا د پردیو په کاسو لوی شوي : زمونږ بیګانه په وینو نه مړېږي). زه د اروا‌ښاد خپلواک کورنۍ ملګرو او د قلم خاوندانو ته، تعزیت وایم، الله تعالی دې یې د جنتونو سردار کړي، امین

**په درنښت**



### Mohammad Tanha

کېدای شي تاسو به نه وی خبر چې استاد نقیب احمد خپلواک په افغانستان کې د هستوي امنیت او ستراتیژي یواځینی متخصص وو. له ۲۰۱۳ را هیسې مو په دې اړه کله کله بانډار سره کاوه. پام مو دی چې د بېدین ټاپې په لګولو په څومره ظرافت د کار خلک را وژني؟

❋❋❋

### Irfanullah Safi

نقیب احمد خپلواک په دین مین ځوان، یوه ورځ له مرسته کوونکو (ډونرانو) سره په مجلس کې ناست ؤ، خبرې اوږدی شوی، د ماسپښین د لمانځه مهال یې له خارجیانو ښښنه وغوښته چې خبرې اوږدی دي؛ زه به لمونځ وکړم بیا به دوام ورکړو. په دې وخت کې کوم یو چې ایجنډا یې جوړه کړې وه را غبرګه کړه چې سررر مونږ په اجنډا کې د لمونځ لپاره ځای ندی ورکړی!!!!!! ده په ښه سړه سینه ځواب ورکړ چې سمه ده ستا ایجنډا کې به دېته ځای نه وي مګر زمونږ هغه ایجنډا کې چې له لوی الله سره مو پرې هوکړه کړې، د ورځې پینځه وخته لمونځ ته په کې ځای ورکړی شوی دی!!!!!!
له عثمان انصاري نه په مننې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارشاد حسین اسیر**

قـــبر دي گـــل شـــه درجـــه دي خـــدای اوچتـــه درکـــړي
شهید خپلواکه خدای دي اووه واړه جنته درکړي
شهید خپلواک سره زموږ مینه دهغه لپاره فقط خالصی دعاگـاني دی خدای دی قبر ورته د نور نه ډک کړي. امین

***

**محمد قایم نیازی**

خپلـواک چـې دلـوړ اسـتعدادخاوند وه خپـل هیـواد او ولـس تـه دخدمت لپاره متې را لوسې کـړې وي او همـدا یـې موخـه وه چې دخپل ویجاړ او وران هیواد بچیان به روزم ولي نن یـې لـه دي پـاني دنیا څخه دتل لپاره تسرگې پټې کړی الله دجنتونه ورکړي ورثـوو تـه دجمیل صبر مونږ ټولگیوال ټول په دې غم کې شریک یو روح یـې خاد.

***

**Majeed Qarar**

د کابـل لـه کمپنـۍ ور ښـکته ټالیـب پیلېږي، د کنـدهار پـه ولایـت ختمېږي. دغه ټوله لاره د هر نقیب احمد او هر خپلـواک لپـاره قتـل گاه ده او د ټالیبانو تر ټولو ټینگ ښاري ملاتړي ته چلینـج دی چـې دې سیمې ته له لسو رینجرو پرته هسې چکري ور ښکته شي. همـدا چې دلته یې ملاتړي، هلته ځان نه شي ورڅخه مسلمانولای. زمـوږ د



سیمې یو قاضي و، له ما سره به یې د ټالیب پر سر شخړه وه، بله ورځ یې د خور له واده په مخه کړ او مړ یې کړ. یو ملگری په همدې لاره ټالیبانو ښکته کړی و، وېلې په وردگو کې ماشومانو پـه ټالیبـانو پسـې نارې وهلې چې طالب کوکو (کاکا) دالې (دلته) یې مړ که چې مـوږ یې سیل وکو.

راځئ دا ومنئ چې ترهگر یاست او بدلون ته اړتیا لـرئ. کـه دا منـئ نو بیا بدلون نه غواړئ او چې بـدلون نـه غـواړئ نـو بیـا چـې څـه در پېښېږي، ښه در پېښېږي.

***

**Sifat Zwaak**

## شهید نقیب احمد خپلواک یاد

څلور کاله پخوا مې په لمړي ځل ولید پـه شـهرنو کـې منتظـر وو لـه ځان سره مو راواخست احمدشاه بابا مینه کې مو د شـپې تـر ناوختـه ډېرې کیسې وکړې شهید خپلواک ماښـام وویـل چـې زه سـهار ډېـر کارونه لرم نو بایـد وختـه ویـده شـم خـو د خپلـواک علمـې خبـرې دومره خوږې وي چې وخت یې ترینه هېر کړ یو وخت یې فکر شو چې د شپې درې بجې دي نو مجلس مو په تیزۍ ختم کړ ټول ویده شو شهید خپلواک سـهار وختـه پاڅیـده لـه لمونځ او چـای څښـلو وروسته زه او شهید خپلواک د ښار په لور روان شو شـهید خپلـواک

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څلورمو مکرویانو کې خکته شو خدای په اماني مو سره وکړه ویل یې وخت پیدا کړم نو انشاالله چې سره کینو او ډیرې کیسې سره کوو د شهید خپلواک کیسو ته ډیر لیوال ووم نو په دې څلور کاله کې به مو اکثر سره د فیسبوک له لارې خبرې کولې,شهید خپلواک ددې هېواد او ولس د پرمختګ لپاره ډیرې سترې هڅې لرلې,اکثر به یې راته په علمي برخه کې لارښوونې کولې څلور کاله وروسته شهید خپلواک مې یو ځل بیا په دهمزنګ څلور لارې کې ولید,فکر مې نه وو چې غږ یې راباندې وکړو مخ مې واړاوه چې ګورم خندان ولاړ دی لمړی خبره یې داوه چې ته خو سم د انځر ګل یې لاړې پسې ورک شوې اوس په فیسبوک کې هم نه یې,روغبړ مو وکړ پوښتنې مو وکړې ورته مې وویل زړه ایډې مې ختمه شوې ده خو په نوې ایډې کې نه یې راسره خو ډیرې لنډې خبرې مو سره وکړې,د خدای په امانۍ وخت کې یې راته وویل زه مخکې له دې چې دوکتورا ته لاړ شم یوه شپه مجلس جوړوو او ډیرې د زړه خبرې به سره وکړو,خدای په اماني مو وکړه او رحصت شو خبر نه ووم چې د شهید خپلواک سره به مې اخیري لیدل ای کاش خبر وای هیڅ وخت به مې نه وی پرېښی.

خندان، پیاوړی او د علمي ډګر ځلانده ستوری شهید نقیب احمد خپلواک اوس زمونږ په مینځ کې نشته خو یاد یې تل راسره دی، د شهید نقیب احمد خپلواک د علمي ډګر لارویان لا ژوندي دي د



هېواد او ولس دښمنان مې د شهید نقیب احمد خپلواک د ریښا خپرولو لار په دې وحشیانه کارونو نشي بندولای، تاسې یو خپلواک شهید کړو خو خپلواک تر شا زرګونه نور روزلي پرېښې دي تاسې یوازې د خپلواک پیاوړی وجود د خاورو لاندې کړ د هغه فکر او علمي لار لا دوام لري خپلواک د دې پر ځای چې عصري زده کړې وکړي دینې زده کړې یې هم کړې وی د قران حافظ وو شهید خپلواکه! ستا خوږې کیسې هغه مینه چې ملګرو ته دې ورکوله نن مونږ د هغې مینې نه یو تور دښمن بې برخې کړو:

اوس دې یادونه افسانې ښکاري
داسې دستـــور د زمانې ښکاري

شهید خپلواکه! ستر څښتن دې مل شه تل مو دعا ده درته چې د جنتونو سردار شې، غم او لرې والی دی ډیر دروند دی هغه نړی دې ښایسته او هوسا اوسه.

***

**Dr Zia Ur Rahman Zia**

یو ډیر بد او دردونکی خبر چې ډیر زیات یې وردردولم. یو بل علمی کدر مو هم دلاسه ورکړلو چې خپل ټول ارمانونه یی له ځان سره یوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروفیسور نقیب احمد خپلواک، په امریکایی پوهنتون بیګانی برید کې شهید شوی، الله ج د شهادت قبول کړه.

انالله وانا الیه راجعون

ټولو ټپیانو ته عاجله اوکامله روغتیا غواړو، شهیدانو ته فردوس جنت غواړو، په علمي ادارو برید دهیواد په راتلونکې برید دی.

***

**Real Afghanistan**

این هم هدیه طالبان کثیف برایمان...

بجز از خاک گور و یاد های استاد نقیب احمد خپلواک دیگر چیز را نخواهم دید و بیاد آورد ! روحت شاد باد استاد بزرگ.

***

**Pajhwok Afghan News**

د افغان امریکایي پوهنتون استاد نقیب احمد خپلواک چې دوه ماستریانې یې لرلې او اوس یې ددوکتورا لپاره پلان درلود، د تېرې شپې په برید کې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

***



**Afghanistan Mass Media**

نقیب احمد خپلواک ، یکی از هفت دانشجو دانشگاه امریکایی افغانستان در کابل که شب گذشته در حمله مهاجمان به شهادت رسید.

**Mohammadlaiq Samoon**

په ټولنیزو رسنیو کې له فکره خوړ انسان ښاغلی استاد نقیب احمد خپلواک ډېر مخې ته راځي شاید هغې تردې وړاندې د ځوانانو په زړونو کار کړی وي او د ملي ارمان څښتن تیر شوی وي .
هغه د قران عظیم الشان حافظ او د دوه ماستریانو خاوند چې په پروني وحشي برید کې شهید کړای شو، ارامځی یې له نوره ډک شه!

***

**Emal Pasarly**

وامې ورېدل چې استاد نقیب احمد خپلواک کابل کې پر پوهنتون د وحشي-برید په ترځ کې شهید شوی. دوه کاله وړاندې استاد خپلواک راسره په واشنګټن کې د یوه سیمینار ګډونوال و. ده نړیوالو ته د افغان ځوانانو په وړتیا خبرې کولې، نړیوال یې د افغانانو له استعدادونو خبرول، دی متین، درونند، غلی او په خپله برخه حقوقو کې پوه ځوان و. دغه ډول کدرونه یوازې هغه نه شي زغملی چې له دې وطنه یې سترګې سوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Mirwais Omarkhil**

د خوږ ملګری شهید نقیب احمد خپلواک د ژوند سفر تر همدې ځایه وو..........!

انالله و اناالیه راجعون

لعنت پر وحشي طالب ځناورو، د دوئ پر ملاتړو او پالونکو

❊❊❊

**اندیشکده اقتصاد و سیاست**

استاد نقیب احمد خپلواک، استاد دانشکده حقوق دانشگاه آمریکایی افغانستان در حمله شب گذشته کوردلان جاهل بر این دانشگاه شهید شده است. او که دو ماستری نیز داشت، پایان نامه (تیزس) دکترای خود را می نوشت اما شب گذشته با تمامی آرمانهایش از سوی دشمنان علم و دانش و اهریمن صفتان کوردل بشهادت رسید. روحش شاد و یادش گرامی باد.

❊❊❊

**شاپور بختیار**

لعنت شه پر ځناور طالب او د هغوئ د ملاتړو پر دا وحشت او دهشت چې زمونږ ځوانان شهیدانوی. نن مو استاد نقیب احمد خپلواک'عمرخیل' په شهادت ورسیده.



❊❊❊

**Sadiq Torabzai**

د شهید نقیب احمد خپلواک جنازه به نن د ننګرهار بهسودو ولسوالۍ قاسم اباد کې خاورو ته وسپارل شي، څو ورځې ویر به وي، خفګان به وي، خپلواک نه لومړی او نه وروستی قرباني دی، موږ به د جګړې له ذهنیت سره داسې ډیرې هستی له لاسه ورکړواو دا لړۍ روانه ده تر څو چې د ملا عمر او ابوبکر البغدادي ترهګریزې مفکورې ژوندۍ وي.

❊❊❊

**Dr. Nasib Karimi**

#شهید نقیب احمد خپلواک، استاد دانشگاه امریکایی بود، دو ماستری داشت و میخواست برنامه دوکتورایش را نیز آغاز کند. ناجوانمردانه #شهید اش ساختند.

❊❊❊

**Abdul Basir Sabawoon**

اخخخخ زما دروند او خوږ ملګری استاد نقیب احمد خپلواک هم په بېګانۍ پېښه کې شهید شوو.

انالله وانا الیه راجعون

زړه مې له خفګانه چوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



انالله و اناالیه راجعون

د شهید خپلواک جنازه نن له غرمې وروسته د ننگرهار ولایت په بهسودو ولسوالۍ قاسم اباد کلي کې خاورو ته سپارل کیږی.

***

**محمدرضا کریمی**

تو بخند اما اشک من چطور شود، نقیب احمد خپلواک

***

**Afghan Stanikzai**

ډاکټر نقیب احمد خپلواک زموږ یو بل اشرف غني و. ډاکټر نقیب احمد خپلواک د هیواد ځوان نسل روزه، او درنا پلوشې یې خپرو. عبدالرحمان غضري.

***

**Bano Rasuli**

دا چې یو تعداد د پوهې مشعلداران بې گناه د بلې ډیوې سره له خاورې سره خاورې کېږي د یو لاس پوسي خدای ناترس او بې دین لنډغرانو او گوډاگیانو د هدفونو ښکار کېږي د تاسف او تاثر ځای دی د شهیدانو روح دی ښاد وي او گوډاگیانوته الله پاک جزا ورکړي.



**Dawa Khan Menapal**

ترهگرو تیره شپه دا ځوان کادر نقیب احمد خپلواک چه د دوو ماستریو خاوند وو، په شهادت ورساوو.دشهید دي خدای جنتونه په نصیب کړي، کورنۍ ته بې جمیل صبر غواړم. دعلم او پوهي دښمنان دي تاریخ ته شرمیدلي وي

***

**Basharat Rahimullah**

August ۲۵, ۲۰۱۶

اووووفففففف خدایه! د نقیب احمد خپلواک غم خو د زغملو نه دی، خدایه! تل به خندان و، ته یې دا نوی سفر هم د خپل رحم په برکت خوشحاله او خندان کړې.

***

**محمد علی حسینی**

شهید نقیب احمد خپلواک حافظ کل قرآن بود، طالبان بنام اسلام حافظ قرآن رابه شهادت میرساند. برادرعزیز شهادت مبارک

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Dost Muhammad Nayaab**

ددې ملک یوه بله ستره هستي مو د لاسه ورکړه.

زموږ وياړ استاد نقيب احمد خپلواک د افغان امريکن پوهنتون د تيرى شپي په بريد کې شهيد شو. انا لله و انا اليه راجعون

استاد نقيب احمد خپلواک د ننګرهار ولايت بهسودو ولسوالۍ د قاسم اباد کلي اصلي اوسيدونکی و. شهيد خپلواک د ننګرهار پوهنتون حقوقو او سياسي علومو له پوهنځي په لمړۍ درجه فارغ او دوه ماستري يې لرلي. ځوانيمرګ خپلواک د خپلي ماسترۍ لمړۍ دوره د فلبرايټ پروګرام له لارى د امريکا په متحده ايالاتو کې بشپړ او بيا د کابل په افغان امريکن پوهنتون کې د استادۍ مقدسه دنده پيل کړه، موده وروسته يې د ماسترۍ دويم سند ترلاسه کړ. شهيد خپلواک د دکتورا اخستلو په موخه د اکسفورډ پوهنتون ته چې د نړۍ په کچه ورته ۲۵ تنه بريالي شوي و، دريم مقام خپل کړی و.روح يې ښاد او هغه دنيا يې ښکلي.

***



**Dourani Ahmadzai**

شهادت دی قبول شه شهيده !

نقيب احمد خپلواک يو تکړه اوبا استعداده ځوان و چې ننګرهار پوهنتون يې هم تاپ کړی و او همدارنګه په امريکايي پوهنتون کې هم يو لايقه ستوری و.

د وطن يوراتلونکی ځوان و
خدای دې ظالمان تباه کړي
کورنۍ ته يې د صبر غوښتونکی يم

***

**Nowandish Nikkhah Hadafmand**

تقديم به شهيد نقيب احمد خپلواک
اينجا همه در خوابند ، ديريست که دلگيرم
اينگونه اگر باشد ، می پوسم و می ميرم
اين قوم، به خود غرقند ، مغرور و پراز کينه
هر لحظه به صد رنگند ، دلخسته ی تزويرم
در پيله همه مردند ، پروانه نمی يابی
بنگر چه عروسک وار ، بازيچه ی تقديرم
خشکيده به لب خنده ، دل گوشه ی تنهايی
در بند قفس حالا ، از جان خودم سيرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



همبســـتر دلتنگـــی ، هـــم قافیـــه ی بـــاران
در اوج جـــوانی مـــن ، بـــی حوصـــله و پیـــرم
عمریست که درخوابند این قوم، امیـدی نیسـت
ایـــن اســـت از ایـــن مـــردم ،تفســـیرم و تعبیـــرم.

**شعر: محمد هادی رحیمی/محصل در خارج از کشور**

❊❊❊

**Amanzai Zabi**

ډېر متاثر سوی یم
زړه ته مي نه لویږي چي نقیب احمد خپلواک دي شهید سوی وي.

❊❊❊

**Fahim Lawang**

**God bless Him**

نقیب احمد خپلواک، استاد پوهنتون آمریکایی افغانستان بود که دو ماستری داشت و حالا برای دکتورای خود آمادگی می گرفت. در حمله دیشب بالای این پوهنتون شهید شد.

❊❊❊



**Wali Ullah Sahil**

قــدردان بــه مــې پــه قــدر هلــه پــوه شي
پس لـه مرگـه چې مې گـوري تصـویر بیـا بیـا

**شهید پروفیسور نقیب احمد خپلواک**

❊❊❊

**خبرگزاری کابل**

شــهید نقیــب احمــد خپلــواک، اســتاد دانشــگاه امریکــایی بــود، دو ماستری داشت و میخواست برنامه دوکتورایش را نیز آغاز کند.

❊❊❊

**Zabih Habibi**

شما ببینید که چې حال اسـت در ای وطـن ...ایـن اسـتاد گرامـی دو ماستری در رشته حقوق داشـت و در جریـان دوکتـورای خـود بـود. اما با آرمانهایش یکجا شهید شد ...

❊❊❊

**Nazeer Najm**

استاد نقیب احمد خپلواک په د افغانستان امریکایي پوهنتـون شـوي برید کې شهید شو، د ده مړینه واقعآ یوه لویـه ضـایع ده خـدای دې وبښي فردوس جنتونه یې په برخه شه.

انالله وانا الیه راجعون

❊❊❊

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Fawad Popal Sarwary**

برادر عزیز ما استاد نقیب احمد خپلواک که دیروز در حادثه خونین کابل از طرفه دشمنان وطن به حق رسانیده شود. روحش شاد باد

***

**Omid Hiran**

پروفیسر شهید نقیب احمد خپلواک

د پوهې قاتلین؛ د اسلامیت او انسانیت دښمنان دي. روح یې ښاد

***

**Waheedullah Paiwastoon**

د فیسبوک پاڼه مې د کتلو نه ده. هرځای کې د ارواښاد شهید نقیب احمد (خپلواک) تصویرونه او ستاینې. دیر می دردوی که څه هم چه په خپلو لاسو مو پورته کړ خو اوس می هم زړه نه منی چه دا فانی دنیا یی ترک کړی او تللی. روح دی ښاد اوسه .. جنت الفردوس دی په نصیب او خپلی کورنی ته د صبر جمیل غوښتونکی یم.

***



**Zabiullah Qasimi**

تیر شپه نقیب احمد خپلواک په شهادت ورسیدو الله دی وبښي.

د خیالون په زانګو ترسهار خوریدم<br>
ناست په سپیره ډاک وم بې غمه زنګېدم<br>
ناپوهه په خپل ژوند وم بې نشې زنګېدم<br>
وران مې خیالونه شو، چې وچت د زنګېدو شوم<br>
سر مې په ایرو و، خپل ځان ته زنګېدم<br>
په سترګو مې تیاره شوه، بې خبره وزنګېدم<br>
په لاس کې مې څه نه وه په زړه هرڅه وه<br>
وقت رانه تېر شوه بې خبره زنګېدم

***

**Fakhruddin Qarizada**

نقیب احمد خپلواک عمرخیل، یکی از استادان دانشگاه امریکایی افغانستان در کابل که شب گذشته در حمله مهاجمان به شهادت رسید. او در دانشکده حقوق تدریس می کرد و در حال حاضر مصروف نوشتن تیزس دکترای خود بود.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Abdullah Faridzai**

اناالله وانا الیه راجعون

استاد نقیب احمد خپلواک چې زما د لیسی د دوری همصنفی وه ، په ډېر خواشینی سره خبر شوم چې د تیری شپي برید کې خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړه او شهید شوو. کورنی ته یی د زړه صبر او ورور نقیب احمد ته د جنت فردوس غوښتونکی یم

***

**Ghufran Wasiq**

برای کشور با بیشتر از هشتاد در صد بی سواد، از دست دادن آدم باسواد و با دو ماستری، فاجعه کلان است! عرض تسلیت!

***

**Mohibullah Mohib**

جمشـید ظفـر محصـل صـنف سـوم پوهنتـون افغـان امریکـا و استاد نقیب احمد خپلواک که داراي دو ماستري بوده و درحال إکمال تخصص دکتورا خویش بود از جمله شهدائي اند که شب گزشته در هنگام اموزش و تدریس توسط تروریستان جام شهادت نوشیدند. اناالله وانا الیه الراجعون

***



**Khalid Yousafzai**

نقیب احمد خپلواک سره مې یو ځل ملاقات شوی وو. په لیدلو یې وپوښتلم چې ماستري دې څنګه شوه؟ د پلار مې ښه ملګرې وو؛ تل به یې مونږ ته په مثال کې وړاندې کو. نن مې د پلار د مثال وړاندې کولو سړې هم لاړ. یا الله ته خو عادل ذات یې. د هغه دښمنان په دواړه جهانه رسوا او ذلیل کړه.

***

**Rafi Rafat**

په دیره خواشینی سره می خبر تر لاسه کر چې زما د ماشوم توب خوګ ملګری او زما د ماما زوی نقیب احمد خپلواک په پرونی پی خه کې په کابل کې د هیواد د دشمنانو او دجهاد د تیکه دارانو لخوا نه په شهادت رسیدلی اروا د خاد وی او دشمنان د الله تبا وبرباد کې....

***

**Mohammad Tahir**

زمونږ ستوری او ځوان پروفیسر نقیب احمد خپلواک طالب اړیکو راته شهید کړ. نوموړي خپل لوړ تحصیلات په امریکا کې پوره کړي وو. د وطن میني او خدمت په پار بیرته راغلي وو چه دا ولس د نوروله احتیاجه او غلامي خلاص کړي.

انا لله و اناالیه راجعون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Afghanistan's My Nest**

نقیب احمد خپلواک، استاد دانشگاه آمریکایی افغانستان بود که دو ماستری داشت و حالا برای دکتورای خود آمادگی می گرفت. در حمله دیشب بالای این دانشگاه شهید شد... لعنت بر طالب و حامیانِ داخلی و خارجی اش !

***

**Zobair Danish**

نقیب احمد خپلواک، استاد دانشگاه آمریکایی افغانستان بود که دو ماستری داشت و حالا برای دکتورای خود آمادگی می گرفت. در حمله دیشب بالای این دانشگاه شهید شد.

***

**Sam Nazari**

نقیب احمد خپلواک، استاد دانشگاه آمریکایی افغانستان بود که دو ماستری داشت و حالا برای دکتورای خود آمادگی می گرفت. در حمله دیشب بالای این دانشگاه کشته شد.

***



**Manizha Naderi**

تروریزم تروریزم است، نژاد و قوم نمی شناسد. این جوان پشتون که یکی از نخبه گان کشور مان بود، امروز به زیر خاک می رود. بیایید با آگاهی و خرد انسانی به تبعیض قومی «نه!» بگوییم و همه همصدا در برابر بیداد و سلطهٔ متعصبان دست نشانده که برای رسیدن به منافع شان قوم ها را به جان هم انداخته اند و از هر یک قربانی میگیرند، بایستیم.

***

***Sabịra Şaba***

آرزوی همه ما رسیدن به مقام والایی تحصیلی همانند نقیب احمد خپلواک است...اگر اینگونه پیکر مان نابهنگام برداشته شود پس چه حاصل...روحت شاد و یادت گرامی باد...خداوند لعنت کند طالب، داعش و همه کسانیکه ذهن طالب پروری دارند....

***

**Rafiullah Samim**

د نقیب احمد خپلواک جرم دا و چې د قران حافظ و، د پوهنتون استاد و، کدر و، د دې وطن یوه هیله وه. ټالیب دا رښا ووژله. د پښتنو د حقوقو پنډتان که پښتانه ته ژوند غواړي، له ټالیبه دې خلاص کړي. ټالیب د پښتانه تر ټولو ستر دښمن دی. کنه هر یو به همدغسې وژل کیږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Sadam Anwari Durani**

شهادت استاد نقیب احمد خپلواک ضایعه بزرگ در کشور است نها لی بود که نو به ثمر رسیده بود . خداوند جنت فردوس را نصیب حال شهید گردا ند. وخداوند دشمنان وطن را نیست ونابود سازد.

❊❊❊

**Aqball Jan**

نقیب احمد خپلواک، استاد دانشگاه آمریکایی افغانستان بود که دو ماستری داشت و حالا برای دکتورای خود آمادگی می گرفت. در حمله دیشب بالای این دانشگاه شهید شد.

Naqib Ahmad Kpolwak is a teacher of american university which have two master's(debloms)and he want to got the PHD but he kill in last night a teak in Afghanistan Kabul (darlamanafghan american university) may Allah bless his sin

❊❊❊



**Rohullah Amin**

هنوز باورم نمیشه که نقیب احمد خپلواک شهید شده است. حس مغلقی دارم. حس غصه، حس قهر، حس یأس و سرگشتگی. آیا سهم ما از زندگی در قرن ۲۱ همین است و بس؟؟؟ خپلواک یک رفیق، یک استاد توانا ویک محقق ورزیده بود و جای خالی اش هرگز پر نخواهد شد.

❊❊❊

**Sami Ulhaq Sadat**

**کاج را امشب به #جرم_سربلندی_می کشند!!!!!!**

#حیفِ این بستان که رگبارِ تگرگ و موج داس همچو شلاقش به‌تن از بام و از در می رسند.

یادش گرامی و روانش شاد باد.

❊❊❊

**Shabir Sultani**

شهید نقیب احمد خپلواک استاد دانشگاه امریکایی، بازهم به خاک یکسان شدن آرزوها، بازهم نامرادی... این ضایعه بزرگ جبران ناپذیر است.

❊❊❊

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Dr. Nasib Karimi**

#شهید نقیب احمد خپلواک، استاد دانشگاه امریکایی بود، دو ماستری داشت و میخواست برنامه دوکتورایش را نیز آغاز کند. ناجوانمردانه #شهید اش ساختند.

***

**Shamsurahman Kamawal**

**استاد نقیب احمد خپلواک**

په کابل کې د تیرې شپې په برید کې شهید شوی. نقیب احمد خپلواک د ننگرهار پوهنتون له حقوقو پوهنځي څخه فارغ شوی او په امریکا کې یې ماستري کړې وه.

انا لله وانا لیه راجعون

**Dr Ali Mohammad Ahmadzai**

Naqib Ahmad khpulwak, one of the best teacher who permanent left this world pray for him.

ورانــه دا دنیــا کــړه ربــه بلــه دنیــا جــوړه کــړه
دا ډکــه د غــم ده یــو بــې غمــه دنیــا جــوړه کــړه
دلته څوک حاکم دی څوک محکوم او څوک آقا غلام



نـه وی چـه تضـاد پکښـې یـوه سـمه دنیـا جـوړه کـړ
دلتـــه خاونـــدان د محلونـــو دی خـــدایان ربـــه
بلـــه بـــس د ختـــو بـــې محلـــه دنیـــا جـــوړه کـــړه

***

**Abdul Rahman Dard**

د استاد نقیب احمد خپلواک انځورونه او ستاینې چې د فیسبوک پر پاڼه گورم، له خپل ژوند او هڅو یو ډول نهیلی شم! ولا ډېر کلک زړه غواړي زه دومره بهادر نه یم چې دا کیسې نورې ولولم، د هغه دې شهادت قبول شي او کورنۍ دې رب با صبره لرې ربه نور یې د ټولو افغانانو سره له غمونو وساته او زموږ یو عرض واخله، دهیواد د پرمختگ دښمنان مو ذلیله او نابود کړه.

د_نهیلی_ژوند_دی

***

**سعدالله فطرت**

شهید نقیب احمد خپلواک ته د لفظونو ویر اووففف غم دې سخت دروند دی .مړې ستا په مرگ د رڼاگانو شوې ډیوې خپلواکه په وطن ویر دی راخورې شولې تیارې خپلواکه اوفف! دا څه اورم ستا د مرگ دي اوازې خپلواکه نه نه دا نه منم چې ته به له موږ ځې

خپلواکه زموږ ترخې شولې د ژوند پاتې شېبې خپلواکه زموږ خو زړه دریږي موږ چاته پرېدې خپلواکه ته د وطن په خاوره څومره نازېدې خپلواکه ته ددې خاورې په خدمت نه مړېدې خپلواکه چا دې کړې بلې په نازک وجود لمبې خپلواکه تا خو ولس ته د رڼا لارې ښودې خپلواکه ته به د بل په بې گناه مرگ ژړېدې خپلواکه او بیگا ته پخپلو وینو لمبېدې خپلواکه نن د فطرت په زړه کرې ورځ ورېدې خپلواکه نن د فطرت له سترگو نه لرې کېدې خپلواکه.

***

**M Ahmadzai M Ahmadzai**

آنا لله و انا الیه راجعون. له ٤ کاله وروسته می ورسره تیره اونی تیلیفونی خبری وکری راته یی وویل چې استاده دیر می یادیژی چیرته به سره وگورو ما ورته کرل کورته راسه . راته وی ویل چې سمه ده درزم او زر به سره وگورو. دادی اوس یی له شهادته خبر سوم. آنا لله و انا الیه راجعون.

باور لرم چې ستا کور جنت دی او الله نه غوارم چې هلته له تا سره وگورم. باور وکره چې ستا زوانی او له هیلو دک ارمانجن ژوند به می د تول عمر له یاده ونه وزی. دشمن د په دنیا او آخرت کې ذلیل اوسه.



**Sayed Hameem Pacha**

انا لله وانا الیه راجعون

استاد نقیب احمد خپلواک زمونگ د تولگی اول نمره او خوگ ملگری په شهادت رسیدلی تولو نه می غشتنه داده چې هغه ته د جنت الفردوس او کورنی ته صبر جمیل او عوضونه لپاره دعا وکری (روح دی اباد وسه وروره) دروند غم دی وو.

***

**Kanwall Tasal**

اوففف خپلواک صیب!! کاش چې دا خوب وي!!!!!!

گلاب گلاب لیمې رانه په سرو وینو کې وړې
میرات شي ځوانیمرگ شي مړ شې جنگه ځوانیمرگه
د چا دنگه ځواني رانړوې په اسوېلو
ښېرا دې په دعا واوره ملنگه ځوانیمرگه

***

**Janagha Khpalwak**

ځوانیمرگ خپلواک دومره دردولي یمه زما گوتي لیکلو ته چمتو نه ښکاري الله دي فردوس جنت نصیب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Zabihullah Jabarkhil**

نقیب احمد "خپلواک" که شهید نه وایي بیا هم چا دومره نـه سـتایلو ولی؟ پشتنو کې چې کله مري بیا ستایل کېږي.

نقیـب جـان خـو واقعـا بااسـتعداد او هوشـیار انسـان وه خـدای دی شهادت قبول کړي دوسـتانو او کـورنۍ تـه دې خـدای جمیـل صـبر ورکړی.... زه پری دیر زیات خفه یم .

خو موږ نوربا استعداد کدرونه هم په داخل او خارج کې لرو او بایـد په ژوندینی سره وستایل شی چې دخپل هیواد خدمت ته جوګه شی ... نه داچی کله مره شی بیا ورته اف او چـوف کـوو او صـفتونه یـی کـوی.چی هوشـیار وه ،بااسـتعداد وه، وطـن دوسـت وه،ماسـتری او دوکتورا یی درلوده خارج کې تحصیل کـراوه،وطن تـه یـی خـدمت کاوه..خو بیافایده نلری.

بس نن خپل دوستان او همکاران وګوری چې داصـفتونه پکـی شـته نو ولی یی نه ستاییو او ولی نه معلومو... هیله ده چې له نن نـه همـدا کمپاین شروع شی ... هد اقل که غوندی او مندی نشو کولای نـو دا فیس بوک خو په خوب کې هم کارولی شو.

***



**نصرت الهام**

پر ښوونځیو او پوهنتونونو برید مخامخ د ملـت پـر راتلـونکي بریـد دی. موت العالم موت العالم!

تروریزم او تروریزم پالونکی پنجـاب د افغـان ملـت اصـلي دښـمنان دي!

***

**Idrees Stanik Zai**

د افغانستان د نامرده دښمنانو پر وړاندې نه توره پـر څمکـه ایـږدو او نه هم قلم؛ د هیواد د سوکالی، پرمختګ او یووالې لپاره زیار باسو او هر ډول قربانۍ ته چمتو یو. د ځوانانو مبارزه د وحشـت، جهالـت او جنګ پر ضد ادامه لري. دشمن نـه از قومنـدان انـدرابی پرسـید کـه تاجک هستی و نه از نقیب خپلواک که پشتون! بس هر دو جوان ما را به خاطر افغان بودن شان به شهادت رساندند.

***

**Shakirullah Akhundzada**

ژوند ښکلی دی او دنیـا بدرنګـه ده: نقیـب احمـد خپلـواک الله دی دفردوس جنت په برخه کړه . الله دی ظالمان تباه او بربـاد کـړي . انـا لله وانا الیه راجعون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Zia Ur Rahman**

په رشتیا هم دگران همصنفي (نقیب احمد خپلواک) غم ډیر دروند غم وو الله ج دي جنت الفردوس نصیب کړي او کورني ته د الله ج صبر جمیل ورکړي.

***

**Nadir Nadir**

خپلواک ملګري راته د خپلواکۍ بیرته اخېستلو په ورځ اسد اته وېشتمې پیغام وکړ، ویل یې زما د پروفایل تصویر هم د ازادۍ په رنګ ښکلی کړه، مال څنګه یې ډیزاین کړم ویې خندل ویل خپل د فیس بوک پروفایل په شان یې ډیزاین کړه؛ عکس یې راولیږه، په مینه مې ورته جوړ کړ، هغه هم د پروفایل تصویر کړ؛ خو د تل لپاره.
اخخخ اوس یې هم هماغه تصویر پروفایل دی. دخپلواکۍ د ورځې مبارکۍ مو یو بل ته ورکړې.. ویل په دې هیله چې همداسې سر لوړی او خپلواک ژوند ولرو!
#اخخ بس همدا مې ورسره وروستۍ خبرې شوې ویل یې دلیدو په هیله!!! اشنا د جنتونو سردار شې او هم هلته مې درسره لیدل وشه!

***



**Rahmatullah Haqmal**

وخ ظالمه نقیب احمد دې هم وواژه!
نور هېڅ نه لیکم هغه وحشي به څه زړه ولري چي په داسي ځوانانو ودردیږي هغه وحشي مو هره ورځ داشان ځوانان وژني.
۱۲کاله دمکتب دوره
٤ کاله پوهنتون
۲ کاله ماسټره په یوه ریشته کې
۲ کاله ماسټره په بله ریشته کې
او اوس یي دوکتوره ته امادګي نیولي وه
دغه ټولي هلي ځلي یي دګران وطن لپاره کولي خو د دین او وطن دشمنانو یي ټولي هیلي دخاورو سره خاوري کړي.

***

**Siamuden Pasarly**

چوکونه او څلور لارې د جنګ د اتلانو په نومونو ډېر نومول شوي دي، د ادب، پوهې او جهالت سره د مبارزې به خاطر یوه سیمه باید د ځوان پروفیسر (خپلواک) په نوم ونومول شي.
د ادب او پوهې مینوالو! ډېر یې شیر کړئ تر څو د حکومتي مقاماتو تر غوږونو ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**to Educated Afghan Youth Mushtaq Rahim**

**Movement**

د چیوننګ سکالرشیپونو دپاره د چمتو والي پروګرام د شهید نقیب الله خپلواک نوم ته ځانګړې شوې چې د را روانې اونۍ په اوږدو کې به جوړ شي - د پوهنې شهید نقیب الله خپلواک په ځوانیمرګۍ د ژړا پر ځای د نورو داسو ځوانانو پیدا کول به د شهید د وینې حق ادا کول وي- ملا مو وتړئ او یو زیان په زرګونو داسې ځوانانو په را پیدا کولو راسر کړئ.

دشهید نقیب الله خپلواک چیوننګ سکالرشیپ ته د چمتو والي بشپړ پروګرام دپاره دا پاڼه ګورئ

***

**شین او سمسور لغمان**

دا یوازې د نقیب قبر نه دی. دا د افغانستان د روښانې راتلونکې لپاره د زرګونو آرمانو ګور دی. دا د یوې مور د سترګو د رڼا ګور دی. دا په یوه خوار او پرېوتي وطن کې د یوه مسوول انسان د سرګردانې اروا وروستی تمځای دی. دا خروارونه خاورې د افغانستان په نوم پر یوې غلبېل شوې سینې واوښتې او د ابد لپاره یې هغه انسان لاندې کړ، چې غوښتل یې په بحرانو او ګردابو کې ګیر یوه وطن ته د سوکالۍ او ښه ژوند ارزښتونه معرفي کړي.



**Arifullah Pashtoon**

**محصل شهید فارغ نه شو**

**موریې په چیغو چیغو ټول کړل کتابونه**

زبیر د AUAF حقوقو اوسیاسي علومو محصل وو ډېر دینداره او ټولنیز شخصیت وو همیشه به یې مورته د مازیګر او مبنام مونځونه په جماعت سره کول خو دده او استاد خپلواک او نورو محصلینو شهادت سخت ودردولم جنتونه یې نصیب ملګرو، دوستانو اوکورنیو ته یې صبرالجمیل غواړم.

کور دې وران شه د بمونو سوداګره

**Wahidullah Amiri**

**بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ**

".For what sin he was slain"

تر څو چې د واک د ترلاسه کولو لپاره ددین په نامه سواداګري روانه وي تر هغې پورې به د خپلواک غوندې هستۍ خاورې کېږي. تر اوسه دا نشم منلای چې ګنې خپلواک نور زمونږ سره نشته. الله دې د جنتونو سردار کړي. انا الله وانا الیه راجعون.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Shabir Ahmad**

ښه پوهیږم چی خبری می نه اوری خو بس د زړه دردونه کموم که زه خبر وی چی دومره کم عمر لری نو ما به د ژوند هره لوبه هره جنگ هر سیالي د ژوند هره لحظه به ستا په نوم کړی وی او په ډیر فخر سره به می ستا لاس اوچتوو، چی خپلواک لالا تا وگټو.

***

**Sher Shah Tasal**

شهید خپلواک ولی مونږ په ننگرهار کې خپل مشرـ ونه تاکه ځکه چې زری مو تر یی نه درلوده خاین نه وه توپک سالار نه وه بادی گاردان یی نه درلوده لوکس کور یی نه درلوده او مافیا نه وه لوی مشکل یی داوه چې د نری له معتبر و پوهنتونونو څخه دوه ماستریانی ا خیستی وی او دوکتورا ته هم نو ماند شوی وه پشتو کیبورد نلرم مافی.

***

**Masoomi Muzhgan to Naqib Ahmad Khpul-walk**

استاد محترم روح شما شاد یاد شما گرامی خداوند غریق رحمت خود کند همه دوستان را، و صبر جمیل نصیب بازماندگان کند شهادت شما شهادت چندین نسل قلم و چندین نسل و خانواده



قانون و طرفداران حاکمیت قانون است شهادت شماضایع بزرگ در این حالت افغانستان است ان شاالله هم مفکورهای شما اهداف شما را روزی خواهد در این سرزمین پیاده نمودن

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شهید پروفیسر نقیب احمد خپلواک ته!

**ستړگې مې سرې شوې یادومه خاطره پخوانۍ**
**زه د خپلواک هغه دېره هغه ټپه پخوانۍ**

**هر یو محصل ستا د ټک ټک انتظار لارې څاري**
**ندي خبر چې استاد ختمه کړه قصه د ځوانۍ**
**ډیوې دي بلې کړې تیرو تیرو کوټو کې گله**
**ته چې تړې لاړې شوله توره دا رڼا ودانۍ**
**وارېی له مونږ کړلولو خطا اختیار مو واک کې نشته**
**ډېره وه ډکه له دردونو ستا ترکه بیگانۍ**
**هسک نظرونه دې له ځان سره تر گوره یووړل**
**تر تا زیات نه یم اوس خوښومه هدیره ویرانۍ**
**د ازادۍ مینه دې کړله په لونگۍ څرگندە**
**مونږدې ویاړمن کړو چې پسرـ دې کړه شمله نیکانۍ**
**دښمن دې ومره چې پر تاېی ټوپک پورته کړلو**
**جنت نه گوري دوی منلې وسوسه شیطانۍ**
**غم دې دردمن کړم حوصله مې په وجود کې نشته**
**له خدایه غواړم خدایه راکړې حوصله سبانۍ**

**شې به سردار د جنتونو دا له مانه واوره**
**که کړي لاس پورته د دعا درته یوه خوگیانۍ**



## محسن امین

نن مې د شهید نقیب خپلواک پخواني پیغامونه ولیدل. ملگرتیا مې ورسره د ۲۰۰۵ کال نه وه. فیس بوک کې مو ۲۰۱۰ کال کې سره پیدا کړل.

پخواني پیغامونو کې یې ډیرې کیسې پرتې دي.

اسلام، سیاست، اقتصاد، ټولنیزې ستونزې، د فضا او ستورو علم یا کزمولوژي، فزیک، د ځوانانو تعلیم او لوړ تحصیلات، د افغانستان د پرمختگ پلانونه او داسې نور مو سره تر شپې ناوخته بحث کول.

هر بحث کې مو د افغانستان ځوانان خپله اصلي سرمایه گڼله. راتلونکي ته ډیر هیله من وو. ویل به مو چې په گډه سره به هیواد جوړو.

یوه شپه زما په کور کې د شپې تر یوې بجې پورې مو د ایسنټاین په تیوریو، بلیک هول په تصور، د سټیفن هاکینک په وړاندوینو اوږده بحثونه وکړل. د هغې شپې هره خبره او هره لحظه مې سترگو ته ودریږي.

ما ساینس او انجینري ویلي وه او هغه سیاسيعلوم او حقوق، زما سیاسي تبصرې او تحلیلونه به یې خوښیدل او ماته به د هغه ساینسي تبصرې او د نویو اختراعاتو په اړه تازه معلومات جالب ول.

مهم کتابونه او مقالې مو یو بل سره شریکولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په ملګرو کې هغه کس چې د علمي بحث تنده مې ورسره ماتیدله، هغه نقیب خپلواک وو.

۲۰۰۵ کال وو، زه تازه د دولسم ټولګي نه فارغ شوی وم او کانکور امتحان ته مې شیبې شمارلې. قریب الله هجرت سره ننګرهار پوهنتون ته لاړم، هلته د قریب الله هجرت او نقیب خپلواک په یوې علمي موضوع باندې مناظره. مناظرې او بحث ته یې کیناستم، اخر کې مې ترینه ځو پوښتنې وکړې. د مناظرې نه وروسته یې راته وویل چې ستا پوښتنې مې خوښې شوې.

نقیب به د ننګرهار پوهنتون په لیله کې خپلو همصنفیانو ته د انګلیسي ګرامر درس ورکوه. زه به هم کله نا کله ورتلم او د انګلیسي ګرامر درس ته بې کیناستم.

کله چې امریکې ته د ماسترۍ لپاره ولاړ، بیا هم راسره تماس کې وو. د شپې تر ناوخته به مو خبرې کولې. د خپل درس په اړه یې راته ویلي چې په امریکا کې په محصلینو باندې زیات فشار اچول کیږي چې خواري وکړي او ځان ورسوي. ویل یې چې اول سمستر را باندې سخت تیر شو او ډیره خواري‌مې پکې وکړه، ځکه د افغانستان تعلیمي‌سیستم د امریکا د هغه سره فرق لري او دلته هره هفته باید ځو سوه صفحې مطالعه وکړم او هر مضمون لپاره جدا اساینمنټ استاذ ته وسپارم. بیا یې راته ویل چې نورو سمسترونو کې مو پوره نومرې واخیستې او په لوړه درجه فارغ شوم.



د فراغت نه وروسته یې راته ویلي چې په ملل متحد کې راته وظیفه پیدا شوې، خو غواړم چې افغانستان ته راشم. دا جمله (افغانستان را باندې حق لري) به یې همیشه تکراروله.

شهید نقیب خپلواک ډیر ارمانونه ځان سره یوړل. د افغانستان ځوانان په علم، ساینس او ټیکنالوژۍ باندې سمبالول یې مهم ارمان وو چې تر اخره یې ورته کار وکړ او همدې لاره کې د افغانستان دښمنانو شهید کړ. تر ټولو سپیڅلی ارمان یې دا وو چې په خپل ژوند کې افغانستان پرمختللی، باامنه او سوکاله وګوري.

شهید خپلواک خپل حق ادا کړ، موږ د افغانستان ځوانان به یې ارمانونه ژوندي ساتو او کوشش به کوو چې ترلاسه یې کړو.


روح دې ښاد او جنت دې ځای شه!

د اګست ۲۶ مه، ۲۰۱۶

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library









(c) ketabton.com: The Digital Library





**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**